سمیع الدین افغاني

۲۰۱۶/۰۶/۱۵



# پرېږده پرېږده ای مرګیه

لړ دمه شه ای زړګیه　　زه لا نورڅه کول غواړم
لړ مې پرېږده ای مرګیه　　د ایمان آ زمویل غواړم
چې منبر مې چا سیزلی　　دهغو پرځول غواړم
زماورورېې چې وژولی　　ترې ګریوان څیرول غواړم
ببر سرى ماشومان مې　　له بمو بچول غواړم
چې ترې والوزی کوترې　　د پنجرو ماتول غواړم
لا نیمګړی مى آرمان دی　　خپل آرمان ته ور تلل غواړم
دا چې کور په کور روان دی　　داماتم ختمول غواړم
نا امید داغلې زړونه　　په لیمو ښکولول غواړم
دا کشتی په ډوبیدو ده　　تر توفان تیریدل غواړم
ربه داسې طاقت راکړی　　د ولس پاڅول غواړم
چې موږ تول سره یوځای کړي　　پوه رهبر درول غواړم
پرېږده پرېږده ای مرګیه　　زه جانان ته ورتلل غواړم
یوپاڅون یوانقلاب ته　　لراوبریوکول غواړم
یا به دا ارمان پوره کړم　　یا کفن څیرول غواړم
بیا نو هله په مزار مې
سرې جنډې رپول غواړم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ